Preview (1 / 10) - ketabton.com

# انــوار الـتـجويــــد

لیـکـوال: قـــاري رېـدي ګل شینــواري




## د کتاب ځانګړنې

کتاب نوم: **انوار التجوید**

لیکوال: قاري رېدي ګل شینواري

ډیزاین چارې: طیب الله نظیرزاده

چاپ کال: ۱۴۰۴ هجري لمریز

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

خپرندوی: **سهار خپرندویه ټولنه**. جلال اباد

احساس خپرندویه ټولنه ـ جلال اباد

د چاپ د هر ډول چاپ او خپراوي حقوق د خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.

**د ترلاسه کولو پته:**

**سهار خپرندویه ټولنه**. اسحاقزی مارکیټ، لاندې پوړ، جلال اباد.

اړیکه: ۰۷۸۹۹۰۴۵۷۷/۰۷۷۹۲۷۳۳۴۵/۰۷۷۳۱۵۳۶۳۲

**احساس خپرندویه ټولنه ـ** اسحاقزی مارکېټ، **لاندینی پوړ، جلال اباد ښار**

کابل: اکسوس کتابپلورنځی، مازیګر کتابپلورنځی، علمي کتابپلورنځی، مستقبل کتابپلورنځی، سروش کتابپلورنځی، سمون کتابپلورنځی، جهان دانش کتابپلورنځی.

لغمان: قاري حبیب الله عزیزي کتابپلورنځی، چهارباغ بازار، مدینه مارکیټ.

خوست: رڼا کتابپلورنځي

پکتیا: علمي کتابپلورنځی، ماشاء الله کتابپلورنځی.

پکتیکا: مجاهد کتابپلورنځی

هلمند: تاج منور کتابپلورنځی.

Preview (3 / 10) - ketabton.com

**ډالۍ!**

د دار القراء مدرسې له خوا ټولو مسلمانانو ته ډالۍ.

Preview (4 / 10) - ketabton.com

# لړلیک

تقریظ ........................................ 1
مقد مة الکتاب ........................................ 1
د اسماني کتابونو په برخه کې لنډ معلومات ........................................ 2
قرانکریم د ابوبکر رضی الله عنه په دور خلافت کې ........................................ 4
قرآنکریم د حضرت عثمان رضی الله عنه په دور خلافت کې ........................................ 4
د علم تجوید تاریخ ته کتنه ........................................ 5
د علم تجوید او علم قراءت تر مینځ فرق ........................................ 6
د علم تجوید د امامانو تاریخ او حالات زندگی ته کتنه ........................................ 7
د امور محرمه او مکروهه بیان ........................................ 12
مراتب القرائت و مذاهب القراء ........................................ 13
په اواز او ساه کې فرق ........................................ 14
د اعوذباالله او بسم الله بیان : ........................................ 19
مجموعي طور باندې ابتداء په درې قسمه ده: ........................................ 26
د لحن بیان ........................................ 29
د حرف تعریف ........................................ 30
د غاښونو بیان ........................................ 31
د مخارجو بیان ........................................ 33
د مخارجو تعداد ........................................ 35
د مخرج معلومولو طریقه ........................................ 36
ابتداء مخارج ........................................ 37
فرق په مینځ د الف او همزه کې ........................................ 38
د صفاتو بیان ........................................ 46
په حروفو کې د صفاتو اهمیت ........................................ 46
د صفات ډولونه ........................................ 47
په دې حروفو کې قلقله په پنځو مرتبو سره کیږي: ........................................ 53

Preview (5 / 10) - ketabton.com

صفات لازمه په اعتبار د ضعف او قوت ........................................ 55
د صفات عارضه ؤ بیان ........................................ 55
د لام د قاعدو بیان ........................................ 56
د راء د قاعدو بیان ........................................ 57
د حروف مفخمه د تفخیم په لحاظ تفاوت او مراتب ........................ 59
د نون او میم مشدد بیان ........................................ 59
د نون ساکن او تنوین بیان ........................................ 59
د حروف اخفاء مراتب ........................................ 61
د لام تعریف بیان ........................................ 64
د ادغام بیان ........................................ 64
د ادغام موانع ........................................ 69
د اظهار ډولونه ........................................ 71
د همزې بیان ........................................ 71
د همزې وصلي د حرکت بیان ........................................ 73
مد فرعی په«۹» قسمه دی: ........................................ 75
د های ضمیر بیان ........................................ 78
د اجتماع ساکنین بیان:ـ ........................................ 80
د وقف بیان: ........................................ 82
د لهجې او طرز بیان ........................................ 91

Preview (6 / 10) - ketabton.com



## تقریظ

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد القراء والمقرءين محمد واله وصحبه اجمعین

وبعد خادم القران والسنة الحافظ القاری المقری ریدي گل (شینواري) حفظه الله ورعاه د علم التجوید متعلق یوه بهترینه مجموعه تیاره کړې ده، چې نهایتاً مختصره او جامع ده، د دې نه استاد، شاګرد او عوام الناس ورونه هم استفاده کولی شي، رب العلمین دې دا مجموعه د خپل رضا لپاره ذریعه وګرځوي.

وصلى الله وسلم على سيدنا محمد واله وصحبه اجمعين

قاري محمد امان المدني فاضل كلية القران الكريم جامعه سراحیه. مدینه منوره

## مقد مة الکتاب

الحمدلله الذى زين القران بعلم التجويدوالفلك بالقمروالنجوم والرجال بالحاءوالنساء بالزوائب وزينة المسلمين باالقران الكريم ،والصلوة والسلام على سيدالنبيين والمرسلين وخيرالانام ومنبع العلوم والعقول والاداب،محمد مصطفى وعلى اله واصحابه اجمعين

امابعد :داکتاب انوارالتجوید ،ددارالقراءعالی مدرسی دعلم التجویدشعبی دنشراتوڅانګی په همکاری دمختلفوکتابونوجواهر النقیه ،النفحة العنبریه ،نهایة القول المفید خصوصادکتاب الوجیزفی علم التجوید مصنف استاد القراءحضرت مولاناقاری حفظ الرحمان عثمانی غفرالله له څخه راغونډاوترتیب شو په دی امیدچی الله تعالی نفع مند وګرزوی داکتاب شائقینودعلم التجوید لپاره ، هیله مند یم چې هیرمونکړی پخپلودعاګانوکی

Preview (7 / 10) - ketabton.com



## د اسماني کتابونو په برخه کې لنډ معلومات

د اسماني صحيفو او کتابونو تعداد(۱۰۴) دی چې د دې څخه اکثر صحيفې او کتابونه مفقود شويدي، په سيدنا حضرت موسی علیه السلام باندې چې کومې صحيفی نازل شويدي د هغې تعداد پنځه دی، چې په تورات موسوم شويدي، کله چې بخت نصر په فلسطين حمله وکړه د لوټ مار او قتل په نتيجه کې ټول تورات ضائع شو تقريباً سل کاله پس يو عالم بيا قلم بند کړو اوڅه وخت پس رومي بت پرستو بيا حمله وکړه او مکرره تورات يې يوه يوه نسخه ولټولو او ختم يې کړو اوس چې کوم د تورات نسخې دي، دا د حافظې او يادانښت په ذريعه دريم ځل مرتب شويدي.

انجيل په سيدنا حضرت عيسی عليه السلام باندې نازل شويدی او د ده معنا ده خوشخبري، ځکه چې پدې کې د حضرت خاتم الانبياء د بعثت خوشخبري اورول شوې ده، حضرت عيسی عليه السلام د خپل بعثت څخه څلور کاله وروسته په ځمکه موجود وو او بعداً د الله تعالی په امر اسمان ته اوچت شو او په دې څلورو کالو کې هم د رومی پوليسو د ويرې پټ وه او ده ته داسې موقع نه حاصلېده چې په خلاصه توګه لوی مجموعې ته خطاب او بيان وکړي او په ده باندې د ايمان راوړلو والا و تعداد د لسو يا دوولسو نفرو څخه ندي زيات شوي نو په داسې حالت کې د انجيل د کتابت سوال هم نه پيدا کيږي او موجوده نسخې د انجيل دحضرت عيسی عليه السلام اصل ژبه هم نه بلکې يوناني ژبه باندې ترجمه ده او انجيل په څلورو نسخو )۱ (متی )۲ (لوقا)۳ (يوحنا )۴ (مرقس کې راغلي  او د دوی ترمينځ هم په متن کې اختلاف او تضاد موجود دي په سيدنا حضرت داود عليه السلام باندې زبور نازل شوی دی او د ده هم دغه حال دی. النفحة العنبرية صـــ۳۴

Preview (8 / 10) - ketabton.com



په سیدنا حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندې قرآنکریم نازل شوی دی، دا یو اسماني محفوظ کتاب دی لکه الله تعالی فرمایي (انانحن نزلنا الذکر وانا له لحفظون)

اغاز د نبوت یعنې د قرآنکریم شروع په سـنه (٦١٠) عیسوي د رمضان المبارک میاشت کې په جبل نور یعنې غار حراء کې شوی دی، د اولې وحې الفاظ دا دي (اقراء باسم ربک الذی)

د نبي علیه السلام عمر مبارک په دغه وخت کې په قمري حساب سره څلویښت کاله ؤ؛ د قرآنکریم د نزول موده (۲۳) کاله او اخري وحې په سـنه ٦٣٣ عیسوي د نبي علیه السلام د وفات څخه نهه (۹) ورځې مخکې د سورة توبې اخري دوه ایتونه دي. النفحة العنبریة صـ۲۷

د قرآنکریم د کتابت لپاره نبي علیه السلام یوه مستقله شعبه د جلیل القدر صحابه کرامو څخه تعین کړې وه چې کاتبان وحې ورته ویل کیږي، چې العراقي په منظومه سیرت کې/۴۲ / دوه څلویښت ښودلی دی، لکه فرمایي (وکتابه اثنان واربعون) د نبي علیه السلام د کاتبانو تعداد دوه څلویښت ؤ، النفحة العنبریة صــــ۳۰ او په حدیث شریف کې هم څلور راغلي دي، وعن انسٍ قال: جمع القرآن علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم اربعة (ابی بن کعب ومعاذ بن جبل وزید بن ثابت وابوزید) قیل لانس من ابو زید قال احد عمومتی ـ متفق علیه)

له انس رضی الله نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې څلور کسانو قرآن مجید جمع کړی ؤ: معاذ بن جبل، زید بن ثابت، ابی بن کعب او ابو زید. له انس نه پوښتنه وکړی شوه چې ابو زید څوک دی؟ هغه وویل: زما یو تره وو. مشکوة جلد/۴/صـ٥٦٦

Preview (9 / 10) - ketabton.com



## قرانکریم د ابوبکر رضی الله عنه په دور خلافت کې

د مسیلمه کذاب سره د یمامه په جنګ کې چې اوه سوه (۷۰۰) حفاظ او قراء حضرات شهیدان شول او په دغه وخت کې قرآنکریم د صحابه ؤ سره حصې حصې موجود وو نو ابوبکر رضی الله عنه د عمر رضی الله عنه په مشوره او غوښتنه د حضرت زید بن ثابت په واسطه قرانکریم ټول جمع او منظم کړو چې دې ته جمع صدیق وایي. دغه مصحف د ابوبکر رضی الله عنه سره وه د دوی تر وفات پورې او د دوی د وفات څخه وروسته عمر فاروق رضی الله عنه سره وه، د عمر فاروق د وفات څخه وروسته حضرت حفصی رضی الله عنها سره ؤ. بخاری صـ۱۹۳ ، النفحة العنبرية صـ۳۳

## قرآنکریم د حضرت عثمان رضی الله عنه په دور خلافت کې

په شام او عراق کې چې کله په قراءة کې تشویش ناک اختلاف پیدا شو او یو پر بل خپل قراءة لره اصح ښودلو نو حضرت عثمان رضی الله عنه د حفصی رضی الله عنها څخه د قرآنکریم مصحف طلب او د حذیفه رضی الله عنه په غوښتنه او مشوره یې داسې مصحف ترتیب او منظم ولیکه چې د ټولو قراءت متواتره لره ثابت او اماده شو او د لغت د مشکل په برخه کې د قریشو لغت ته ترجیح ورکړل شوه او دې کار لپاره حضرت عثمان رضی الله عنه حضرت زید بن ثابت، عبدالله بن زبیر، سعید بن العاص او عبدالرحمان بن الحارث تعین کړه.

دې حضراتو پنځه نسخې ترتیب او ولیکلې او حضرت عثمان رضی الله عنه پنځو ځایونو ته د پنځو ممتازو صحابه ؤ معلمینو سره ولیږلې، هغه ځایونه دا دي: ۱: مدینه منوره ۲: مکه مکرمه ۳ : شام ۴:کوفه ۵: بصره، دې ته جمع عثمانی وایي. النفحة العنبرية صـــ۳۹

او نور خدمت لکه حرکات، سکنات وغیره حجاج بن یوسف رحمه الله ورکړي دي.

Preview (10 / 10) - ketabton.com



## د علم تجوید تاریخ ته کتنه

د قرآني حروفو د عربي مخارجو او د دوی د اداء په فصیح طریقه او د وقف او ابتداء قواعد او دغه شان د علم قرائت اختلافي وجوهو با قاعده ترتیب او تدوین خو نه د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې او نه د دې څخه بعد زمانه کې ثابت دی، دغه شان کوم مستند روایت څخه دا هم ثابت نه دی چې د حضور صلی الله علیه وسلم یا د دوی څخه بعد تابعینو عظامو د مخارجو او صفاتو لره د کتاب او مجموعې په شکل کې ضبطولو پروګرام کړی وي، دغه حال د فقې، عربیت، تفسیر، ادب، معاني، بیان او علم بدیع هم دی، پدې مقدسو زمانو کې د دې علومو مکمل طور باندې تصنیف د کتاب یا مجموعې په شکل کې نه دی شوی، د دې وجه دا وه چې د اسلاف عظامو رحمهم الله په یادو، دعلوموحاصلولو اهتمام زیات ؤ او هم یې قوت حافظه قوي وه، چې کله اخر وخت کې حافظې کمزورې شوې او د اهل عربو په شان اهل عجم هم د اسلام په مقدس دین کې داخل شو او اسلامي فتوحات زیات شو او اهل عجمو ته هم د کتاب حمید د تلاوت نوبت ورسېده، دا چې عجم اهل زبان نه ؤ، له دې وجې نه د عربي قواعدو سره نا اشنا ؤ، پدې وجه د هغې زمانې قراء او علماء د صحي اداء قوانین او قواعدو لره د تعبیر او بیان په سانچه کې واچول، چې د هغې په وجه اهل عجم هم د صحي عربي په اداء باندې قادر شول او د دې قیمتي خزانې څخه مالامال شو، که نه چېرته اهل عجم او چېرته قرآن عربي. د دې څخه وړاندې اهل عربو کتاب حمید د خپل فطري ملکي او پیدایښتي لیاقت موافق لوستلو، دا چې عربي د دوی مورنی ژبه وه، دوی لره د قواعدو او ضوابطو ضرورت نه ؤ، د ټولو نه اول امام خلیل بن احمد بن عمرو بن تمیم البصری الفراهیدی النحوی المقری الازری پخپل تصنیف د کتاب العین په شروع کې د مخارجو صفاتو او د حروفو د القابو او اسماؤ حلقیه، لهویه، شجریه وغیره ابتداء تقریباً

PREVIEW

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

Buy this book - ketabton.com

https://ketabton.com/books/nOSW5rZZLZI

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.